# د اِفسیانو په نوم د پولوس رسول خط

## پېژندګلو

دا خط پولوس رسول د اِفِسوس په ګېرچاپېره علاقو کښې هغه نوؤ جماعتونو ته ولیکلو کوم چې هغۀ په اعمال د رسولانو ۱۹ باب کښې شروع کړی وُو. د دې کِتاب بنیادی پېغام دا دے چې ټول خلق په روحانی توګه مړۀ شوی دی، خو بیا واپس راژوندی کېدے شی کله چې د ایمان په وسیله په فضل سره خلاصون حاصل کړی. په دې کښې هغه جماعت ته د دې خبرې تشریح کوی چې د خُدائ پاک ابدی منصوبه د یهودیانو او غېریهودیانو دپاره څنګه یو شان ده. دا د خُدائ پاک یو راز دے چې د مودو پورې پټ وو خو اوس په حضرت عیسیٰ مسیح کښې څرګند شو. په دې کِتاب کښې هغه تعلیم ورکوی چې خُدائ پاک څنګه د خپل تعلیم په وجه خپلو خلقو له روحانی برکت ورکوی کوم چې د حضرت عیسیٰ مسیح نه راځی. په اولنی درېو بابونو کښې د دې ذکر دے چې ایماندارانو له په څۀ باندې ایمان ساتل پکار دی، او په آخری درېو بابونو کښې د دې تشریح ده چې د خُدائ پاک فضل څنګه په جماعت کښې، په خلقو کښې او په کورَنو کښې راتلے شی. د حفظ کولو دپاره ۲:۸ آیت "ځکه چې خُدائ پاک د خپل فضل په سبب تاسو له د ایمان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په وجه خلاصون درکړو، او دا ستاسو خپل کار نۀ وو، بلکې
دا د خُدائ پاک د خوا نه انعام دے.“

## سلامونه

۱

۱ د پولوس د طرف نه چې د خُدائ پاک په مرضئ د
عیسیٰ مسیح رسول دے. زۀ دا خط مقدسینو ته او د عیسیٰ
مسیح وفادارو مریدانو ته چې په اِفِسوس کښې دی لیکم. ۲
خُدائ پاک زمونږ پلار او مالِک عیسیٰ مسیح دې تاسو له
فضل او سلامتی درکړی. ۳ ټوله ثناء دې خُدائ پاک
زمونږ د مالِک عیسیٰ مسیح پلار ته وی، چا چې مونږ ته هر
قسمه روحانی برکتونه په آسمانی ځایونو کښې د مسیح سره
د یووالی په وجه راکړی دی. ۴ ځکه چې هغۀ مونږ په خپله
مینه کښې د دُنیا د پېدایښت نه مخکښې په مسیح کښې خوښ
کړُو چې مونږ د هغۀ په نظر کښې پاک او بېداغه شُو. ۵
هغۀ مونږ د مخکښې نه مقرر کړی وُو چې د عیسیٰ مسیح په
وسیله د هغۀ بچی شُو. او په هم دې کښې د هغۀ مرضی او
خوشحالی وه، ۶ ترڅو چې مونږ د هغۀ د جلالی فضل ثناء
ووایو کوم چې هغۀ مونږ ته په خپل محبوب زوئ کښې وړیا
رابخښلې ده. ۷ په هغۀ کښې مونږ ته د هغۀ د وینې په
وسیله خلاصون، یعنې د ګناهونو معافی، د خُدائ پاک د
پراخه فضل په مطابق حاصله ده، ۸ چې هغۀ په ټول
حِکمت او پوهه په مونږ خپله زیاته مینه نازله کړه. ۹
خُدائ پاک مونږ ته د عیسیٰ مسیح په حقله خپله پټه منصوبه
څرګنده کړه، هغه منصوبه چې د هغۀ خوښه وه او چې په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې خپله نېکه اراده پوره کړی. ۱۰ هغه منصوبه دا ده چې
په صحيح وخت کښې به هغه ټول څيزونه کۀ په آسمان کښې
وی او کۀ په زمکه وی د مسيح د واک او اختيار لاندې
راجمع کړی. ۱۱ مونږ چې اوس د مسيح په يووالی کښې
شريک يُو، نو په دې وجه مونږ ته د خُدائ پاک نه ميراث
مِلاو شوے دے، هغۀ په خپله مونږ د مخکښې نه مقرر کړی
وُو. او د هر څيز نه هغه د خپلې منصوبې په مطابق کار
اخلی. ۱۲ نو بيا چې مونږ په مسيح اول ايمان راوړے وو نو
د خُدائ پاک مقصد دا وو چې د هغۀ د ستائنې او جلال
سبب شُو. ۱۳ نو تاسو چې حقيقت واورېدو يعنې د
خلاصون زېرے چې تاسو پرې په مسيح ايمان راوړو، نو
هغۀ په تاسو د خپلې هغه وعدې په مطابق چې پخوا يې کړې
وه د روحُ القُدس مُهر ولګولو او خپل يې کړئ. ۱۴ هم دغه
روح د خُدائ پاک د خوا نه مونږ سره د هغه ميراث ضمانت
دے د کوم چې يې مونږ سره وعده کړې ده او هغۀ مونږ په
بيعه واخستو، چې د خُدائ پاک خپل خلق شُو، د دې دپاره
چې د هغۀ ثناء صِفت او جلال بيان کړُو.

## د پولوس رسول دُعا

۱۵ نو د کله نه چې زۀ ستاسو د هغه ايمان نه چې په مالِک
عيسیٰ مو دے، او د هغې مينې نه چې د ټولو مقدسينو سره
يې ساتئ خبر شوم، ۱۶ ما ستاسو دپاره شُکر کول نۀ دی
پرېښی او هميشه تاسو په خپلو دُعاګانو کښې يادوم. ۱۷ زۀ
دُعا کوم چې زمونږ د مالِک عيسیٰ مسيح جلالی پلار خُدائ
پاک دې تاسو ته د حکمت او پېژندګلو روح درکړی ترڅو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې تاسو د هغهٔ په پېژندلو کښې ترقي وکړئ. ۱۸ نو زهٔ دُعا
کوم چې ستاسو د زړهٔ سترګې دې روښانه شي چې تاسو په
دې پوهه شئ چې هغهٔ تاسو د څومره لوئ اُمید دپاره رابللي
يئ، يعنې هغه شاندار ميراث له چې هغهٔ د خپلو مقدسينو
دپاره ساتلے دے، ۱۹ او مونږ
ايماندارانو دپاره د هغهٔ لوئ قدرت څومره بې‌شانه دے. دا
قدرت په مونږ کښې لکه د هغهٔ د لوئ قوت کار کوی، ۲۰ دا
هم هغه قوت دے چې د کوم په وسيله چې خُدائ پاک مسيح
د مړو نه بيا راژوندے کړو او خپل ښى لاس ته يې په آسمان
کښې کښېنولو. ۲۱ هلته يې مسيح د هر قسم حکومت او
اختيار او قدرت او رياست او د هر يو نوم نه زيات اوچت
کړو کوم چې به نهٔ تش په دې دُنيا کښې بلکې په راتلونکې دُنيا
کښې هم اوچت وى. ۲۲ او خُدائ پاک هر څهٔ د مسيح د
پښو لاندې کړل او هغه يې د جماعت په ټولو څيزونو سردار
جوړ کړو، ۲۳ او جماعت د مسيح بدن دے. او د مسيح نه
پوره معمورتيا حاصلوى او هم دې وخت کښې ټول کائنات د
خپل حضور نه ډکوى.

## د ژوند نوې لار

۲ ۱ تاسو هم د خپلو نافرمانو او ګناهونو په وجه مړهٔ
وئ، ۲ څکه چې تاسو هم پخوا د دې دُنيا په کږو لارو
روان وئ، او د پيريانو د سردار، يعنې هغه روح پسې تلئ کوم
چې اوس په نافرمانو بچو کښې کار کوى. ۳ يو وخت
مونږ هم دغه شان د خپل وجود د خواهشونو په مطابق ژوند

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تېرولو او د ګناه د فطرت مرضی مو پوره کوله، او مونږ هم
لکه د نورو په شان په فطری توګه د خُدائ پاک د غضب د
لاندې وُو. ۴ خو خُدائ پاک چې په رحم غنی دے هغۀ د
خپلې لوئې مينې په وجه مونږ سره ډېره مينه وکړه. ۵ تر
دې پورې کله چې مونږ د نافرمانو په وجه مړۀ وُو نو هغۀ
مونږ د مسيح سره بيا راژوندی کړُو. او د فضل په وسيله
تاسو خلاصون بيامومندو. ۶ خُدائ پاک مونږ د عيسىٰ
مسيح سره د مړو نه راوچت کړُو او په آسمان کښې يې د
هغۀ سره په تخت کښېنولو، ځکه چې مونږ د مسيح سره يو
شوی يُو. ۷ نو خُدائ پاک په ټولو راتلونکو زمانو کښې
هغه خپل بې‌اندازې لوئ فضل چې مونږ ته يې راکوی د
عيسىٰ مسيح په وسيله به يې مونږ ته په خپل رحم کښې
راښکاره کړی. ۸ ځکه چې خُدائ پاک د خپل فضل په
سبب تاسو له د ايمان په وجه خلاصون درکړو، او دا ستاسو
خپل کار نۀ وو، بلکې دا د خُدائ پاک د خوا نه انعام دے.
۹ خلاصون زمونږ د نېک عمل اجر نۀ دے نو په مونږ
کښې دې څوک هم په خپل عمل فخر ونۀ کړی. ۱۰ ځکه
چې مونږ د هغۀ خاص مخلوق يُو چا چې مونږ په عيسىٰ
مسيح کښې د نيکو کارونو دپاره پيدا کړی يُو، او دا کارونه
خُدائ پاک د مخکښې نه زمونږ دپاره تيار کړی وُو، چې مونږ
يې سر ته ورسوو.

## د حضرت عيسىٰ مسيح سره يووالے

۱۱ نو بيا دا خبره مۀ هېروئ چې يو وخت تاسو غېريهوديان
هم بې‌خُدايه ګڼلے شوئ. او يهوديانو به تاسو ته ناسنته او د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کافر آواز کولو، اګر چې دې سنت صرف د هغوئ بدن
متاثره کړے وو. ۱۲ نو بيا تاسو په هغه زمانه کښې د مسيح
نه جدا وئ، او تاسو د بنى اِسرائيلو د قوميت نه بهر وئ، او
تاسو د تړون د وعدې نه ناخبره وئ کومه چې خُدائ پاک د
هغوئ سره کړې وه. او په دُنيا کښې مو نا اُميده او بې‌خُدايه
ژوند کولو. ۱۳ خو اوس تاسو د عيسىٰ مسيح سره يو شوى
يئ. تاسو يو وخت د خُدائ پاک نه لرى وئ، خو اوس د
مسيح د وينې په وسيله د هغهٔ سره نزدې شوى يئ. ۱۴ ځکه
چې مسيح په خپله زمونږ صُلح وکړه. هغهٔ يهوديان او
غېريهوديان د خپل بدن په وسيله په سولۍ يو ځائ کړل، او د
دشمنۍ هغه ديوال يې ونړولو کوم چې مونږ جدا کړى وُو.
۱۵ هغهٔ شريعت سره د دې د حکمونو او قانون منسوخ
کړو. هغهٔ په خپل ځان کښې د يهوديانو او غېريهوديانو دوه
قبيلې يو او نوے خلقت کړل او صُلح يې په کښې راوسته.
۱۶ په سولۍ باندې مسيح د خپل مرګ په وسيله دواړه قبيلې
په خپل بدن کښې يو کړې او د خُدائ پاک سره يې پخلا
کړې، او کومه دشمنى چې يې په خپلو کښې کوله هغه يې د
مرګ تيارو ته وغورزوله. ۱۷ هغهٔ دا د صُلحې زيرے تاسو
غېريهوديانو ته څوک چې لرى وئ او يهوديانو ته چې نزدې
وُو واورولو. ۱۸ ځکه چې د مسيح په وسيله مونږ دواړه په
يو روح کښې د پلار په حضور کښې حاضرېدے شُو. ۱۹ نو
اوس بيا تاسو نور پردى او مسافر نۀ يئ بلکې د مقدسينو هم
مُلک او د خُدائ پاک د خاندان کسان يئ ۲۰ نو تاسو د
رسولانو او نبيانو په بنياد ودان کړے شوى يئ چې عيسىٰ
مسيح يې په خپله د ګوټ سر کاڼے دے. ۲۱ په هغهٔ کښې د
عمارت ټولې برخې رايوځائ کيږى او ترې نه د مالِک مقدس

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کور جوړیږی. ۲۲ نو تاسو هم د هغهٔ په یووالی کښې د نورو
سره د خُدائ پاک یو داسې کور جوړوئ چې په کوم کښې
خُدائ پاک د خپل روح په وسیله اوسیږی.

## د پولوس رسول خِدمت د غېریهودیانو دپاره

۳ ۱ هم دا وجه ده چې زهٔ پولوس چې ستاسو
غېریهودیانو د خاطره د عیسیٰ مسیح قېدی یم تاسو ته دُعا
کوم. ۲ ضرور به تاسو د خُدائ پاک د هغه فضل د ذمه
وارئ په حقله کوم چې ستاسو دپاره ما ته راکړے شوے
دے اورېدلې وی. ۳ لکه څنګه چې ما تاسو ته مخکښې په
لنډه توګه ولیکل دا هغه راز دے چې خُدائ پاک په خپله د
الهام په وسیله ما ته وښودلو. ۴ ما چې تاسو ته څهٔ لیکلی
دی کله چې تاسو هغه وایئ نو په دې به پوهه شئ چې ما ته د
مسیح د پټ راز څومره عِلم دے. ۵ هغه راز دا دے چې په
تېرو زمانو کښې بنی آدمو ته دغه شان نهٔ وو ښکاره شوے
څنګه چې دا راز اوس پاکو رسولانو او نبیانو ته د روحُ
القُدس په وسیله ښکاره کړے شو. ۶ او هغه راز دا دے
چې کومو یهودیانو او غېریهودیانو چې په زیری ایمان راوړے
وی هغوئ دواړه د خُدائ پاک په میراث کښې برابر شریک
دی، او دوئ د یو بدن اندامونه دی، او دواړه د عیسیٰ مسیح
په وسیله د برکت په وعدې کښې شریک دی. ۷ ما ته د
خُدائ پاک په فضل او لوئ قدرت سره د زیری د اورولو د
خِدمت حق راکړے شوے دے. ۸ اګر کهٔ زهٔ په ټولو
مقدسینو کښې د ټولو ورکوټو نه ورکوټے یم، خو دا فضل په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما وشو چې زهٔ غېریهودیانو ته د مسیح د بېاندازې دولت
زیرے ورکړم، ۹ او چې هغه پټ راز ټولو خلقو ته ښکاره
کړم کوم چې خُدائ پاک، د ټولو څیزونو خالق د ازل نه پټ
ساتلے وو. ۱۰ په دې هر څهٔ کښې د خُدائ پاک مقصد دا
وو چې د جماعت په وسیله خپل هر قسمه حکمت هغه
نالیدونکو حاکمانو او د واک خاوندانو ته چې په آسمانی
ځایونو کښې دی ښکاره کړی. ۱۱ دا د هغه ابدی ارادې په
مطابق وو کومه چې هغهٔ زمونږ په مالِک عیسیٰ مسیح کښې
پوره کړو. ۱۲ نو مونږ په مسیح کښې او په هغهٔ د ایمان په
وسیله په زړهٔ ورتیا او په ډاډهٔ سره د خُدائ پاک په مخکښې
حاضرېدے شُو. ۱۳ نو زهٔ تاسو ته خواست کوم چې زما د
مصیبتونو په لیدو سره مهٔ بېزړهٔ کېږئ. ځکه زهٔ دا ستاسو
دپاره برداشت کوم، او دا دې ستاسو د عزت باعث وی.

## د ایماندارانو دپاره دُعا

۱۴ په هم دې وجه زهٔ د پلار په وړاندې دُعا کوم، ۱۵ د چا
نه چې په آسمان او زمکه کښې هر قوم خپل حقیقی نوم
مومی، ۱۶ زهٔ دُعا کوم چې هغه د خپل لوئ جلال په مطابق
تاسو ته هغه څهٔ درکړی چې تاسو په خپل باطنی انسانیت
کښې د هغهٔ د روح په وسیله ډېر قوی شئ. ۱۷ نو چې بیا د
ایمان په وسیله مسیح ستاسو په زړونو کښې واوسېږی، او
زما دا دُعا ده چې د خُدائ پاک په مینه کښې ستاسو جرړې
مضبوطې شی. ۱۸ او زهٔ دُعا کوم چې تاسو سره هم دا
قدرت راشی چې د ټولو مقدسینو سره یو ځائ پوهه شئ چې
د مسیح د مینې پلنوالے، اوږدوالے، اوچتوالے او ژوروالے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښومره دے. ۱۹ او چې د مسيح په هغه مينه پوهه شئ چې د
پوهې نه بهر ده، او چې تاسو د خُدائ پاک د پوره معمورۍ نه
ډک شئ. ۲۰ د خُدائ پاک جلال دې وی ښوک چې قادر
دے او د هغه قدرت په وسيله چې په مونږ کښې کار کوی
هغه زمونږ د منت او خيال نه ډېر زيات کار کولے شی، ۲۱
هغهٔ ته دې په جماعت کښې او په عيسیٰ مسيح کښې د تل
دپاره نسل در نسل جلال وی. آمين.

## په حضرت عيسیٰ مسيح کښې يووالے

۴ ۱ نو زهٔ چې د مالِک د خاطره قېدی يم، په تاسو زور
راوړم چې هغه شان نېک ژوند تېروئ د کوم دپاره چې خُدائ
پاک تاسو رابللی يئ. ۲ په پوره عاجزۍ، نرمۍ، صبر او په
مينې سره يو بل زغمئ. ۳ پوره کوشش کوئ چې په خپلو
کښې د روحُ القُدس يووالے د سلامتۍ د تړون په وسيله قائم
وساتئ. ۴ بدن هم يو دے او روحُ القُدس هم يو دے او دغه
شان تاسو هم د يو اُميد دپاره رابللے شوی وئ. ۵ يو
مالِک دے، يو ايمان، يوه بپتسمه ده، ۶ او واحد خُدائ
پاک، چې د ټولو ابک يو پلار دے، ښوک چې د ټولو دپاسه،
او د ټولو په وسيله کار کوی او په ټولو کښې موجود دے.
۷ خو مونږ هر يو ته د مسيح د سخاوت په مطابق نعمتونه
راکړے شوی دی. ۸ هم دغه وجه ده چې کلام دا فرمائی
چې، "کله چې هغه بره لاړو قېديان يې د ځان سره بوتلل، او
خلقو له يې تحفې ورکړې." ۹ د هغهٔ د بره ختلو نه څهٔ
مطلب دے بې له دې نه چې هغه د زمکې ښکته برخې ته هم
کوز شوے وو. ۱۰ او هغه ښوک چې ښکته راکوز شو هم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه د ټولو آسمانونو نه بره وختو، د دې دپاره چې ټول
کائنات د خپل حضور نه ډک کړی. ١١ دا هم هغه هستی وه
چې نعمتونه يې خلقو له ورکړل چې څوک به رسولان، څوک
به نبيان، او څوک به د زيرى اورونکى، او څوک به د
ايماندارانو شپونکى، او څوک به اُستاذان وى. ١٢ د هغوئ
ذمه وارى دا ده چې مقدسين د خِدمت دپاره تيار کړى او د
مسيح بدن له وده ورکړى، ١٣ ترڅو مونږ ټول په ايمان
راوړلو کښې يو شُو او د خُدائ پاک زوئ په ښۀ شان وپېژنو،
او ايمان کښې بالغان شُو، او د مسيح پوره کامليدو ته
ورسيږو. ١٤ نو په کار نۀ دے چې مونږ دې نور ماشومان
پاتې شُو. او نۀ دې مونږ د نوى تعليماتو په وجه اخوا ديخوا
کيږُو او نۀ به نور د خلقو د مکارئ، چالاکئ او ټګئ په
منصوبو سره ګمراه شُو. ١٥ نو د دې په ځائ مونږ ته په
مينه کښې حقيقت وئيل په کار دى، او په مسيح کښې به وده
وکړُو، څوک چې زمونږ سر دے. ١٦ هغه په خپله ټول بدن
په کاملې طريقې سره يو ځائ کوى، چې دغه شان هره
حِصه خپل خاص کار سر ته رسوى، او د بدن د نورو حِصو
سره په ترقئ کولو کښې مدد کوى، د دې دپاره چې ټول بدن
صحتمند او پوره په مينې سره وده وکړى.

## د حضرت عيسئ مسيح په يووالى کښې نوے ژوندون

١٧ نو زۀ تاسو ته په مالِک کښې په سختئ سره دا خبره
کوم چې تاسو نور د غېريهوديانو په شان مۀ اوسيږئ، لکه
څنګه چې هغوئ په خپلو باطلو خيالاتو کښې اوسى. ١٨

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ د خپلو سوچونو په تيارو کښې ډوب شوى دى او کوم
ژوند چې خُدائ پاک ورکوى نو د جاهليت او د هغوئ د
زړونو د سختوالى په وجه هغوئ د هغې نه لرې شوى دى.
١٩ هغوئ نهٔ شرميږى او خپل ځانونه يې په شهوت پرستۍ،
او په هر قسم گنده کارونو پسې ليونى کړل. ٢٠ خو دا هغه
طريقه نهٔ ده کومه چې تاسو د مسيح په حقله زده کړې ده.
٢١ د کله نه چې تاسو د عيسىٰ په حقله اوريدلى دى او هغه
حقيقت مو زده کړے دے کوم چې د هغهٔ نه راځى، ٢٢ نو
خپل زوړ د گناه فطرت او پخوانۍ د ژوند تېرولو طريقې
پرېږدئ کوم چې په دوکه او شهوت پرستۍ خرابې شوې وې.
٢٣ نو روحُ القُدس ته د خپل سوچ او اخلاق نوى کولو
اجازت ورکړئ ٢٤ او خپل ځان په نوى انسانيت کښې
ونغاړئ کوم چې په حقيقى صداقت او پاکوالى کښې د خُدائ
پاک په صورت جوړ شوى دى.

## د نوى ژوند طريقه

٢٥ نو بيا تاسو هر يو کس دروغ وئيل پرېږدئ او د خپل
گاونډى سره رښتيا وايئ ځکه چې مونږ ټول د يو بدن
اندامونه يُو. ٢٦ د غصې په وخت کښې گناه مهٔ کوئ او
خپله غصه د نمر د پرېوتو نه اخوا مهٔ پرېږدئ، ٢٧ او په
داسې کولو اِبليس له موقع مهٔ ورکوئ. ٢٨ پس د دې نه دې
غلهٔ نوره غلا ونهٔ کړى بلکې په خپلو لاسونو دې په محنت او
ايماندارۍ سره کار وکړى، نو چې د هغوئ سره هم
حاجتمندو ته د ورکولو دپاره څهٔ وى. ٢٩ خرابه او پوچه
خولهٔ مهٔ استعمالوئ. کومه خبره چې کوئ چې هغه نېکه او
چې د نورو دپاره مدد کوونکى وى، نو څوک چې ستاسو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خبرې واورى چې د هغوئ د جوړولو دپاره د ډاډ او برکت
باعث وى. ۳۰ او د خپل ژوند په طريقو د خُدائ پاک روحُ
القُدس مهٔ خفه کوئ، د کوم په وسيله چې هغهٔ تاسو خپل
کړى يئ او د خلاصون د ورځ دپاره يې په تاسو مُهر لګولے
دے. ۳۱ د خپل ځان نه هر قِسم تريخوالے، قهر، غضب،
کنځلې، غيبت، بد خواهش اخوا کړئ. ۳۲ نو د دې په ځائ
په خپلو کښې په يو بل رحم کوئ او نرمى اختياروئ، او تاسو
يو بل معاف کوئ، لکه څنګه چې خُدائ پاک په مسيح کښې
تاسو معاف کړئ.

## د نُور د بچو په شان ژوند تېروئ

۵ ۱ لکه د خُدائ پاک د ګرانو بچو په شان، نو هغه د
خپل ژوند مثال وګرځوئ. ۲ او د مينې نه داسې ډک ژوند
تېر کړئ لکه څنګه مينه چې مسيح زمونږ سره وکړه او خپل
ځان يې زمونږ دپاره د خوشبوداره نذرانې په طور خُدائ پاک
ته قربان کړو. ۳ خو ستاسو په مينځ کښې دې د زناکارۍ،
يا د څهٔ قِسم ناپاکۍ، يا لالچ ذکر قدرې هم نهٔ وى، ځکه چې
دا د خُدائ پاک د مقدسينو دپاره مناسب نهٔ دى. ۴ دغه
شان بېحيا، پليتې خبرې او ګنده ټوقې مهٔ کوئ، ځکه چې دا
بېځايه خبرې دى. د دې په ځائ د خُدائ پاک شُکر ادا
کوئ. ۵ نو تاسو په دې يقين ساتئ چې د حرام کار،
ناپاک، يا حرصناک انسان چې د بُت پرست په مثال دے، نو
د هغهٔ د مسيح او د خُدائ پاک په بادشاهۍ کښې هيڅ ميراث
نشته. ۶ تاسو دې څوک هم په تشو خبرو دوکه نهٔ کړى،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې هم د دې څيزونو په وجه د خُدائ پاک غضب په
هغوئ نازلېږى څوک چې نافرمانه وى. ۷ نو په دې وجه د
هغوئ سره په کارونو کښې مۀ شريک کېږئ، ۸ ځکه چې
پخوا تاسو په تيارۀ کښې وئ، خو اوس تاسو په خپله په
مالِک نُور يئ. نو اوس د نُور د بچو په شان ژوند تېروئ. ۹
ځکه کوم نُور چې په تاسو کښې دے هغه صرف د نېکئ،
صداقت او حقيقت مېوه نيسى. ۱۰ او د دې خبرې پته
ولګوئ چې مالِک په څۀ خوشحالېږى. ۱۱ د تيارې په
بې‌فائدې کارونو کښې حِصه مۀ اخلئ بلکې هغه رسوا کوئ.
۱۲ ځکه چې د هغې ذکر کول هم د شرم خبره ده کوم
کارونه چې نافرمانه خلق په پټه کوى. ۱۳ خو چې په څۀ هم
نُور وځلېږى نو هغه راڅرګند شى. ۱۴ نو چې نُور هر څيز
راڅرګندوى نو ځکه دا وئيلے شوى دى چې، ”اے اودو،
ويښ شئ، د مړو نه راپاڅئ. نو د مسيح نُور به په تاسو
روښانه شى.“ ۱۵ نو بيا د خپل چال چلن ډېر خيال ساتئ. د
کم عقلو په شان ژوند مۀ تېروئ، بلکې د هوښيارانو په شان
ژوند تېروئ. ۱۶ په دې ورځو کښې هره موقع د ښېګړې
دپاره غنيمت وګڼئ ځکه چې زمانه بده ده. ۱۷ نو ځکه کم
عقل کېږئ مۀ بلکې په دې ځان پوهه کړئ چې د مالِک
مرضى څۀ ده. ۱۸ په شرابو مستېږئ مه ځکه چې د دې
اَنجام عياشى ده، بلکې د دې په ځائ په روحُ القُدس معمور
شئ. ۱۹ په خپلو کښې يو بل سره زبورونه، حمدونه او
روحانى سندرې وايئ، او په خپلو زړُونو کښې مالِک ته
سندرې او سرودونه وايئ. ۲۰ او د هر څۀ دپاره هميشه
خُدائ پلار ته د مالِک عيسىٰ مسيح په نوم شُکر ګزارى کوئ.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ښځې او خاوند په مينځ کښې تعلق ساتل

۲۱ د مسيح د درناوى دپاره د يو بل تابعدارى کوئ. ۲۲
اے ښځو، د خپلو خاوندانو داسې تابعدارى کوئ لکه څنګه
چې تاسو د مالِک تابعدارى کوئ. ۲۳ ځکه چې هر خاوند د
خپلې ښځې سر دے لکه څنګه چې مسيح د خپل جماعت
سر دے د کوم چې هغه بچ کوونکے دے. ۲۴ نو لکه څنګه
چې جماعت د مسيح تابع دے دغه شان دې ښځې هم په هره
خبره کښې د خپلو خاوندانو تابع وى. ۲۵ اے خاوندانو، د
خپلو ښځو سره مينه کوئ، لکه څنګه چې مسيح د جماعت
سره مينه کړې ده او خپل ځان يې د هغې دپاره قربان کړے
دے ۲۶ چې هغه مقدس او پاک کړى او چې د خُدائ پاک
د کلام په وسيله يې ووينځى. ۲۷ او هغهٔ دا ځکه وکړل چې
د ځان دپاره داسې د جلال جماعت تيار کړى، چې په کښې
نهٔ عيب وى، نهٔ ګونجې، او نهٔ په کښې بل څهٔ عيب وى، بلکې
پاک او بېداغه وى. ۲۸ هم دغه شان خاوندانو له په کار دى
چې د خپلو ښځو سره داسې مينه وکړى لکه څنګه مينه چې
د خپل بدن سره کوى. هر څوک چې د خپلې ښځې سره مينه
کوى په حقيقت کښې هغه د خپل ځان سره مينه کوى. ۲۹
ځکه چې څوک هم د خپل بدن نه نفرت نهٔ کوى بلکې هغه د
زړهٔ د اخلاصه د دې پالنه کوى، لکه څنګه چې مسيح د
جماعت پالنه کوى. ۳۰ ځکه چې مونږ د هغهٔ د بدن اندامونه
يُو. ۳۱ ”په دې وجه به سړے خپل مور پلار پرېږدى او د
خپلې ښځې سره به يو ځائ شى، او دا دواړه به يو بدن شى.“
۳۲ دا يو لوئ راز دے خو زهٔ يې د مسيح او جماعت په
حقله وايم. ۳۳ بهرحال تاسو هر يو دې هم د خپلې ښځې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره د خپل ځان په شان مینه کوی، او ښځه دې هم د خپل
خاوند عزت کوی.

## بچي او مور پلار

۶ ۱ اے بچو، په مالِک کښې د خپل مور او پلار حُکم
منئ ځکه چې دا نېک کار دے. ۲ ”د خپل مور او پلار
عزت کوئ.“ ځکه چې دا اولنے حُکم دے چې په کښې دا
وعده شوې ده چې، ۳ ”تهٔ به خوشحاله او دُنيا کښې به دې
عمر ډېر وی.“ ۴ او اے پلارانو، تاسو خپلو بچو له غصه
مهٔ ورولئ بلکې د هغوئ تربيت، نصيحت او پالنه د مالِک په
طريقه کوئ.

## غلامان او مالِکان

۵ اے غلامانو، د خپلو مالِکانو تابعداری په يره او عزت او
صفا زړهٔ سره کوئ، دغه شان لکه څنګه چې د مسيح
تابعداری کوئ. ۶ تل د هغوئ د خوشحالولو کوشش کوئ،
نهٔ صرف په هغه وخت کله چې هغوئ تاسو ته ګوری، بلکې د
مسيح د غلامانو په توګه د زړهٔ د اخلاصه د خُدائ پاک رضا
پوره کوئ. ۷ په شوق سره خِدمت کوئ داسې لکه چې د
خلقو نه بلکې لکه چې د مالِک خدمت کوئ. ۸ ځکه تاسو
په دې پوهه شئ چې مالِک به مونږ هر يو له زمونږ د ښهٔ
کارونو اجر راکړی، هغه کهٔ غلامان يُو او کهٔ آزاد يُو. ۹
اے مالِکانو، تاسو هم د خپلو غلامانو سره داسې سلوک
کوئ. هغوئ له دهمکی مهٔ ورکوئ. ځکه چې تاسو ته پته ده

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ستاسو دواړو په آسمان کښې مالِک يو دے او هغه د چا
طرفدارے هم نۀ کوی.

## خپل ځان په روحانی وسلو سمبالول

۱۰ آخر دا چې په مالِک کښې تکړه اوسئ او د هغۀ په قدرت
کښې مضبوط اوسئ. ۱۱ د خُدائ پاک په ټولو وسلو ځان
سمبال کړئ نو چې تاسو د دې قابل شئ چې د اِبليس د
منصوبو خلاف ټينګ ودرېږئ. ۱۲ ځکه چې زمونږ جنګ د
انسان خلاف نه بلکې د بدکارو حکمرانانو، د اختيار د
مالِکانو، د دُنيا د تيارو د قوتونو خلاف او د شيطانی ارواح
خلاف دے چې په آسمانی ځايونو کښې دی. ۱۳ په دې وجه
تاسو د خُدائ پاک په پوره وسلې ځان سمبال کړئ، نو چې
تاسو د دې جوګه شئ چې په هغه بده ورځ د مقابلې دپاره
ودرېږئ او ټول کارونه پوره کړئ او بيا هم قائم پاتې شئ.
۱۴ نو ځکه مضبوط ودرېږئ او د حقيقت پېټۍ د ملا نه تاؤ
کړئ او د صداقت زغره واغوندئ. ۱۵ خپل پېزار د سلامتۍ
زيرے خورولو دپاره په پښو کړئ. ۱۶ او د دې ټولو سره د
ايمان ډالونه هم پورته کړئ چې د هغې په وسيله به تاسو د
شيطان د شغلو ټول غشی مړۀ کړئ. ۱۷ او د خلاصون
ټوپۍ او د روحُ القُدس تُوره راواخلئ کوم چې د خُدائ پاک
کلام دے. ۱۸ او هميشه په هره موقع په روحُ القُدس کښې
دُعا او زاری کوئ، او بېدار اوسئ او د ټولو مقدسينو دپاره
بې‌ناغې دُعا کوئ. ۱۹ او زما دپاره هم دُعا کوئ چې کله زۀ
خبرې کوم چې ما له داسې کلام راکړے شی چې زۀ پرې په
زړۀ ورتيا سره د زيری رازونه ښکاره کړم ۲۰ د کوم دپاره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې زۀ په زنځيرونو تړلے سفير يم. دُعا کوئ چې زۀ په داسې
زړۀ ورتيا سره دا پيغام ورکړم څنګه چې په ما فرض دے.

## آخرى سلام

۲۱ نو تاسو ته به د دې هم پته ولګى چې زۀ څنګه يم، او څۀ
کوم. تخيکوس چې خوږ ورور دے او د مالِک په کار کښې
ايماندار خادِم دے، هغه به تاسو ته هر څۀ ووائى. ۲۲ زۀ
هغه تاسو ته د دې مقصد دپاره درلېږم چې تاسو زمونږ د
حالت نه خبر شئ او چې هغه ستاسو زړونو ته ډاډګيرنه
درکړى. ۲۳ د خُدائ پلار او د مالِک عيسىٰ مسيح د طرف
نه، دې ورونړو ته سلامتى وى او په هغوئ کښې دې د ايمان
مينه وى. ۲۴ په هغوئ ټولو دې فضل وى څوک چې زمونږ
مالِک عيسىٰ مسيح سره نۀ ختمېدونکې مينه کوى.


pashtobibles.org © يوسفزى ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.